۲۰۱۶/۰۲/۰۴

ع، شیرزوی

# د پښتو ژبې تاریخي شا لید

## لومړۍ برخه

د پښتو ژبې په هکله د لومړي ځل له پاره څه لیکم. دا امکان لري دا لیکنه له ډیرو کمبودیو سره مخامخ وي او د بشپړوالي هوډ یې نه شم کولی، ځکه ماتې ګوډې به ولري، خو له دې ټولو سره سره ښایي د قلم خاوندان ما وبخښي او زما دغه لومړنی هڅه که څه هم ناقصه ده، په ښه سترګه ووینې.

زه دا منم چې زما دا هڅه به خورا ابتدایي وي، ځکه زما ورړه خوله او لوی خبرې سره نه جوړیږي، خو هیله لرم چې نور د نظر خاوندان دا تشه پوره کړي.

ژبه د افهام او تفهیم یوه قراردادي وسیله ده، ژبه هغه ږغونه دي چې د هغو په وسیله ولسونه خپل مقاصد تعبیروي، یا هغه اصلاحي ویناوې دي چې د یو قوم په ژبه جاري وي. په عربې یې لسان یا لغت بولي او له یوناني لوغوس څخه جوړه شوي ده، چې معنایي کلمه ده، او په اروپایي اصطلاح یې language بولي.

د دې ږغونو انواع د ملتونو په کچه مختلف او هم ډیر دي، نو ځکه د نړۍ پر مخ ډول ډول ژبې پیدا شوې دي او هر ولس ته خپل ږغونه آسانه او نور پردي ږغونه ورته ګران دي.

ښاغلي میشل مالرب په خپل «زبانهای مردم جهان» نومي کتاب کې د نړۍ ژبو شمیر ۳۰۰۰ ښودلی دی(میشل مالرب، زبانهای مردم جهان، شرکت انتشارات علمي و فرهنګي، چاپ نخست:۱۳۸۲، صفحات: ۳، ۶، ۹)

دا طبعي او منل شوي خبره ده چې آریایي اقوامو په خپل لومړني ټاټوبي (آریانا ویجه) کې ځان ته یوه ژبه درلوده، چې له هغې ژبې څخه وروسته هندي، ایراني او بُخدي ژبې راوتلې دي.

د «ډاکتر ګوستا و لوبون» په وینا: «د آریایي قوم ژبه « آریک» نومیدله، چې سنسکریت ژبه د هغې څخه راوتلې ده، د اصلي آریایي ژبې څخه چې د ټولو آریایي ژبو مور بلل کیږي، لا اقل تر میلاد ۳۰۰۰ کاله د مخه ویل کیده او د دوی ګډه ژبه وه» (حبیبی عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی اودویم ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ ل ۲۰۰۵ م، ص ۳۹ ص - ۴۰.)

میډیم راګوزن Ragozin لیکي: «تقریباً سل کاله د مخه په اروپا کې د هند د علومو پلټنه او زده کول پیل شول، هغه وخت چې چارلس ولکنس Wilknis مهابهارت ترجمه کړ او د سنسکریت ګرامر یې وکېښ، نو سر ولیم جونز د منو د هرم مذهبي شاستر کتاب ترجمه کړ او کولبروک COLBROVK د هند پر فلسفه، قوانین او ادب باندې کتابونه ولیکل، نو د اروپا او هند د ژبو پرتله او مقایسه پیل شوه او دا فکر خلکو ومانه چې سنسکریت د ټولو ژبو مور ده» (پوهاند حبیبي عبدالحی د پښتو د ادبیا تو تاریخ لومړی ټوک، دانش خپرنویه ټولنه، ۱۳۸۴ ل /۲۰۰۵ م،ٌص۴۰.)

د اصلي آ ریایي ژبې عمر د ژبو پوهان (۲۵۰۰ تر ۳۰۰۰ تر میلاد د څخه) پورې تخمین کوي، دوی وایي، چې آریا یې اقوام تر اباسین (اندوس) پورې وتل خپل مشهور دیني کتاب ویدا Veda یې په خپله ژبه انشاء کړ، د دې کتاب د لیکنې تاریخ تر ۱۴۰۰ د میلاد د مخه ځې نو پدې اساس ویلي شو چې د ۲۴۰۰ ق، م، په شا وخوا کې د آریایي قومونو ژبه لا یوه وه او لکه ځینې مورخین چې وایي: دا ژبه د پارس او میدیا څخه تر پنچابه ویل کیده، او د آمو شمالي خواو سغدیانه هم په کې شامله وه.

دا په ډاګه شو چې پښتو ژبه هغې اصلي ژبې ته خورا نږدې ده لکه: سنسکریت او اوستا چې ځینې زیږدلي دي پښتو هم د هغې ژبې لور ده.(پوهاند حبیبي عبدالحی، د پشتو د ادبیا تو تاریخ، لومړی او دویم ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴، ۴۲ مخ)

پیاوړیې مورخ پوهاند عبدالحی حبیبي د همدې اثر په ۳۴۰ مخ کې زیاتوي:

«د تاریخ او ژب پوهنې په رڼا کې د پښتو پخوانی ریښې دا جوته کوي چې پښتو د آسیا د قدیمو ژبو، زړې فارسي، اوستا او سنسکریت په څیر زړه ژبه ده.

داسې ښکاري چې پښتو د ختیځ او هندي ژبو، عربي او ایراني ژبو تر منځ یوه مستقله ژبه ده، چې له ویدې او سنسکریت سره نښتون لري، کوم چې له پخواني پارسي، اوستا او پهلوي سره لري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د پښتو رابطه د پخواني فارسي سره ښه ثابتوي او ۲۵۰۰ ق/ م د پښتو و جود او شتون را په ګوته کوي.
پښتو ژبه د هندي اروپايي ژبو څخه د سنسکريت او اوستا خور ده.
دپښتو په خورا زوړ او پخوانيو ادبي اثارو کي چي تر اوسه زمونږ لاس ته راغلي دي د امير کړور سوري يو حماسي شعر دی چي پټي خزاني د تاريخ سوري په حواله خوندي کړيدي، د پښتو د ژبې دا زوړ شعر چي د هجري د دويمي پيړۍ د لومړۍ برخي څخه را پاتي دی د ظاهري پلوه يعنی د ژبې، ادا، د لغاتو او کلماتو له مخي مخصوص رنګ او زمونږ د اوسني ژبې د محاوری له جريان سره توپير لري ډير داسي لغات او د پښتو د ژبې سوچه کلمات په دې شعر کي رانغړل شوي دي چي د دې شعر د انساني پلټني څخه سری دا نتيجه اخيستلاي شي چي په دغه لومړی دوره کي يعني د هجری په اوله او دويمي پيړۍ کي پښتو ژبه په غور کي د نورو ژبو د اختلاطه سوچه وه دغه سوچه توب او خالص والي تر ۴۰۰ / هه پوري ساتلي دي.
زمونږ د پښتوانخوا په غربي څنډو او د بادغيس، هرات او غور په سيمو کي د پښتو د ژبې ږغونه اوريدل کيده او زمونږ توريالي مشران لکه د توري په ميدان چي پهلوانان وو، دغسي د شعر او ادب په ډګر کي هم دمخه وو.
داسي ښکاري چي په سوريانو کي د پښتو شعر د اسلام د ابتدا څخه موجود و، په پټه خزانه کي د پښتو د ژبې لومړني شعر ته داسي اشاره کړې:

زه يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نشته

په هند و سندو پر تخار او پر کابل نشته

بل په زابل نشته له ما اتل نسته

غشي د من مي ځي برښنا په ميرڅنو باندې

په ژوبله يونم يرغالم پر تښتيدونو باندې

په ماتيد ونو باندي له ما اتل نشته

زما د بريو پر خول تاويږي هسک نمنځ و په وياړ

د اس د سوو مي ځمکه رېږدي غرونه کاندي لتاړ

کړم ايوادونه اوجاړ له ما اتل نشته

زما د تورې تر شپول لاندې دی هرات و جرم

غرج و باميان و تخاربولي نوم زما په اودم

زه پيژندوی يم په روم له ما اتل نشته

پر مروز ما غشي لوني ډاري دښن راڅخه

د هريرود پر څنډو ځم تښتي پلن راڅخه

رپي زړن راڅخه له ما اتل نشته

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

د زرنج سوبه مې د تورې په مخ سوړ وکړ

په باداري مې لوړاوی د کول د سور وکړ

ستر مې مې تربور وکړله ما اتل نشته

خپلو وګړو لره لور پېرزوینه کوم

دوی په ډاډینه ښه بامم ښه یې روزنه کوم

تل یې ودنه کوم، له ما اتل نه شته

پر لویو غرو مې وینا درومي نه په ځنډ و په ټال

نړی زما ده نوم مې بولي پر دریخ ستایوال

په ورځو شپو میاشتو کال، له ما اتل نه شته

د دې شعر ښېګړې ادبي او تاریخي نتایج په هکله په لاندې ډول سره د ادب لومړني او خصایص څرګندیږي، د پښتو دا زوړ شعر چې د هجری دویمې پیړۍ له لومړۍ برخې څخه را پاتې دي، له ظاهري پلوه یعنې د ژبې، د ادا، لغاتو او کلماتو له مخې مخصوص رنګ او زمونږ له اوسنۍ ژبې سوچه کلمات پکې راغلي، که چیرې مونږ دا شعر له سره تر پایه وګورو یو عربي یا فارسي لغات پکې شتون نه لري خو ځینې پخواني کلمات چې د دې زاړه شعر له زړې ژبې څخه را خوندې کړې دي، د ژبې پخواني وسعت او ارتوالی څرګندوي.

د لومړۍ برخې پای

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ